آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

محمد یوسف صابر ساپی ۲۰۲۰/۰٤/۰۵

# د خپلواکۍ د جګړو ورته پایلې

له هغه وخته، چې نړیوال استعمار د مدنیت او فرهنګ خپرولو په بهانه زموږ سیمي ته لاسونه را اوږد کړي دي، **د افغاني خاورې لاندې کولو په تکل یې پنځه ځلي زموږ په هیواد یرغل کړی دی، هر ځلي یې واحد مضمون او ورته نتیجې لرلي دي.** نړیوال ښکیلاک هره پلا په خپل ناروا زور غره افغانستان ته په تیټه سترګه کتلي ، تعرض یې پرې کړی او اشغال یې ورته آسانه ښکاره شوی دی. افغان ولس هر واري په حقه بیساری مقاومت کړی دی، هره پلا یې جګړه ګټلي ده، اما هره پلا یې ډیر نقص کړی دی. د خبرې حقانیت له پاره د نژدې تاریخ پاڼي را اړوو:

**۱-** په ۱۸۳۹ م کال انګلیسانو د خپل برتیانوي هند د پولو پراخولو او د تزاري روسیې د احتمالي تعرض مخنیوي له پاره لوی لښکر(۳۵۰۰۰تنه) تیار کړ، شاه شجاع یې دمخه کړ او د کندهار په لور یې مارش کړېه سل چال او فریب سره کندهار ته راورسیدل، په جنګ-جګړو، تطمعو سره یې غزني هم ونیوه ، ورپسې یې کابل هم تصرف کړ. شاه شجاع په نامه پاچا شو، اصلي واکمن مکناټن، برنس او جنرال کین وو.

په لومړیو کې عام ولس کوم خاص مقاومت ونښود، پدې اند، چې دا یواځې د شاه شجاع د پاچا کولو مسأله ده، هغه پخوانی زړور دوست محمد خان اوس د ځینو سردارانو دخیانتونوله کبله ، په خپل ولس اعتبار دلاسه ورکړی، لکه بګیل مرز وتښتیده. انګلیسانو هم د افغانستان نیول آسانه وموندل، په سره سینه ځای په ځای شول، برنس دکابل ښار په منځ کې کور غوره کړ او مکناټن په بالاحصارکي استوګن شو. ډیر وخت تیر نه شو، چې د وطن د اشغال انګازې په ولس کې خورې شوې، ځپې شوې، جرګې شوې، غازیان راټول شول، یو عام پاځون شو. په داسې حال کې، چې ولس د انګریزي نیواک په ضد په ددو پښوجګړې ته ولاړ وو، دوست محمد خان پرته لدې، چې ولسي مشرانو سره یا آن خپل زوی وزیر محمد اکبر خان سره سلا وکړي، د مکناټن په وړاندي حاضر شو او خپله توره یې ورته تسلیم کړه. وایي: د یو ستر ځواک په مقابل کې د یو کوچني ملت ماته خوړل شرم نه دی، بلکې د مقاومت پرته تسلیمیدل شرم دی.

اما د وطن اصلي ښتنان - ولس د خپلو ریښتیني مشرانو سره پاځون ته دوام ورکړ، د کابل په ښارکې یې د برنس برستن ټوله کړه، مکناټن یې بلې دنیا ته واستوه، په انګریزانو یې د افغان خاوره سور تنور وګرځاوه. د ډیر زورزمایي، قتل وخون او چال وفریب وروسته انګریزان مجبوراً له افغانستانه نیم جانه ووتل. اما افغانستان د جنګ د میدان پهلوان په توګه په ملا مات شو:سند، کشمیر، پنجاب سربیره آن دیره جات او پیښورهم د انګریزي ښامار خیټي لاندې پاتي شول.

د استعماري ضد لومړی جګړې لومړی درس، چې ټولو افغانانو باید همیش په یاد ساتلی، اما نه یې دی ساتلی، هغه دادی چې افغانان په وطن لکه ناموس مین، خپل سرونه ورکوي، د نړی تر ټولو ستر ښکیلاکګر ځواک ته یې د جګړې په میدان کې ماته ورکړه، د انګریزي لښکر د ناماتیدو طلسم یې مات کړ، چې ټوله دنیا ته یې د مقاومت لوست ورکړ، اما دولتي مشر یې د خپلو خلکو په زور بې باوره دي، ولس اتفاق نه لري، مشران یې د ټول هیواد له حاله ناخبر دی، په جګړه کې مات دښمن یې ارزښتناکه خاوره ونیوله یعني افغانانو جګړه وګټله، اما د سیاست له چالبازیو ناخبر، قیمتي خاوری یې وبایللې.

۲- استعماري حرص د انګريزانو د حافظي سترګي ړندې کړي وې، په ۱۸۷۹ م کال انګريزي لښکرو، د روس او انګليس ترمنځ د ډيپلوماتيکو رقابتونو په پايله کې، بيا پر افغانستان باندې د دريو خواوو څخه تعرض وکړ. شيرعلي خان ددې پر ځای، چې خپلې قواوې او خلک منسجم او رهبري کړي، د روس دولت دروا‌غجنو مرستو ته يې ودانګل، چې په مايوسی کې يې سترګې له دنيا پټې کړې. يعقوب خان دانګريزانو جنګي قرارګاه ته ورغی او د ګندمک ننګينه معاهده يې لاسليک کړه. يعقوب خان په چړچو اخته شو او کيونارې له بالاحصاره خپله استعماري واکمنی چلوله.

په ميدان پاتې شول د افغان بې تعريفه ولس د انګريزي يرغلګرو په ضد او افغاني خاوره د جګړې ډګر په توګه. په دې ډګر کې د يوې کمې استثنا پرته، هر افغان سرباز دی اوهر سرباز يې وطنپال. ترټولو لومړی، د بالاحصار سرتيرو د کيوناري او د هغه د ساتونکو پوځيانو په ضد پاڅيدل، چاره يې ورته وکړه او بلې دنيا ته يې وليږل. ها بله خوا د کندهار په ميوند کې افغاني لښکرو او عام ولس د ايوب خان په مشرۍ، د انګريزي يرغلګرو سره مشت ويخن شول، افغاني خاوره يې پرې دوزخ کړه. ..

انګريزانو بيا هم پوه شول، چې پدې خلکو يې واکمنی نشي چليدلای، انګريزي چالونو ته يې پناه يوړه، د وتلو اراده يې وکړه، د انګريزي جرنيل په لاس روزل شوی عبدالرحمان خان يې د تزاري روسيې په سلا راوست، د ايوب خان په مشرۍ انګريزي ضد وسله وال پاڅون يې پرې وځپه، د غازيانو مشران لکه ملا مشک عالم، مولوي عبدالرحيم اونوريې ووژل. . . کورني مخالفتونه يې وټکول. په ۱۹۹۳ م کال يې د انګريزانو سره، په زور وه او که په رضا، د ډيورند کرښه ومنله، باندنی استقلاليت يې له لاسه ورکړاو افغان ملت يې په ملا مات پرېښود، چې تر ننه د رغيدو نه دی، هيواد سمندري لارې له لاسه ورکړې، چې د هيواد د وروسته پاتې کيدو له اساسي علتونو څخه يو دی. ګټلې جګړه د تسليم طلبانه سياست په متن کې د هيواد په زيان تمامه شوه.

۳- په ۱۹۱۹م کال افغانان په نړی کې د استعمار په ضد د ملي - ازاديبخښونکي پاڅون مخکښ په توګه، بيا د نړۍ د ستر قدرت په مقابل کې د خپلې آزادۍ روا حق اخيستلو له پاره ودريدل، د امان الله خان په مشرۍ يې خپل استقلال اعلان کړ. انګريزان په خپل زور مغروره بيا هم د افغانانو د خپلواکی ناری ته اعتنا ونه کړه، جګړه يې وکړه، ماته يې وخوړه. استعمارشرم نه لري، يواځې ګټې لري. انګريزانو وليده، چې افغانان د سپين بولدک په جبهه کې د عبدالقدوس خان په مشرۍ په برياليتوب سره په وړاندې روان دي او د پکتيا په جبهه کې د نادر خان په مشرۍ د انګريزانو سنګرونه مات کړي او وړاندې روان دي، يو څو طيارې يې والوزولې، په کابل يې څو بمونه وغورځول. افغاني مشران په جبهو کې د غازيانو له وړاندې تګ او برياوو څخه ناخبر، د انګريزانو په حيله اوفريب وغوليدل، د ټولو افغاني خاورو ترلاسه کولو په ځای يې د هماغه نيمايي خاورې په خپلواکی قناعت وکړ. د امان الله خان څخه د ټول هيواد داستقلال د ريښتينو مشرانو او پلويانو د نارضايت لومړی علت همدا ؤ، چې د انګريزانو په ضد يې جنګ په نيمه لار کې پريښود. په ملا مات پاتې هيواد هيڅکله هم آرام نه شي موندلی. د جګړې باتور ملت په بدن ټپي ټپي پرېښودل شو، د سرو زرو په شان خاوره، د ميرنيو ميرني خلک، د بې ننګو بې ننګي او د ظالمانو ترحم ته بې سرنوشته پرېښودل شول. بيا هم هماغه تاريخ تکرار شو: د جګړې ننګيالي ملت د سياست په بې ننګی کې راګيرپاتې شو.

۴- په ۱۹۷۹م کال دا ځل د پرنګيانو او د هغوی د «فرهنګ»خپرولو سياست په ځای، شوروي اتحاد د «انترناسيونالستي»مرستو تر نامه لاندې افغانستان ونيو. متل دی وايي: د سپيو کور په کور جګړه وي، خو مسافر ته ټول يو دي. استعماري ځواکونه په خپلو منځو کې يو بل دارې، اما په خپلو استعماري ګټو کې د مظلومو ملتونو په ضد سره يو دي. شوروي افغانان تر انګريزانو بدترحالت کې راګير کړل. تر هغه، چې افغاني «روښانفکرانو»درک کوله، چې دا خو هماغه اشغال دی، کار له کاره تير ؤ، د هيواد په ناموس تيری شوی ؤ.

بيا هماغه افغاني روح، هماغه سپيره ولس، هماغه جګړې او هماغه افغاني خاوره د جګړې ډګر په توګه . . .

دا ځل د هیواد د خپلواکۍ برخلیک تر نورو پلا په بد سرنوشت دچار شو: د انګریزي استعمار په ضد، د استقلال جنګیالیان د اسلامیت په روحیه جنګیدل، یعنې د هیواد د خپلواکۍ ترلاسه کولو پاڅون مشری آزادي غوښتونکو مسلمانانو په غاړه لرله، دا ځل  د آزادیغښونکي نهضت مشرۍ مذهبي تنظیمونو په غاړه واخیستله او که په لوی لاس ور وسپارل شوه. افغانانو د خپل افغاني روح سره مذهبي تنظیمونو پسې د جهاد اقتداً وکړه.

بیا هم د تیر په څیر افغانستان د باندینیو یرغلګرو د پښو لاندې سور تنور شو، د لس کلني جګړې په ډګر کې په کروړونو افغانانو او په زرهاوو شورویانو ژوند له لاسه ورکړو، د روغې هیڅ امکانات نه وو، تر هغه چې اشغال نه وای ختم شوی.

شوروي اتحاد افغانستان پریښوده، خو خپله لمن یې هیڅکله هم نور راټولولی ونه شوه،  په اصطلاح، د غربي تخریباتو څخه یې د خپلو سویلي پولو ساتلو له پاره افغانستان ونیو، خو د هغه متل سره سم: خولۍ یې ساتله ، خپل سر یې بایلود.

دا جګړه هم د نورو پلاوو په څیر افغانانو وګټله ، اما داځل یې د نورو پلاوو لا زیات تاوان وکړ. تنظیمونو واک ترلاسه کړ، لاکن نه د خپلواکۍ څه خرک لیدل کیده او نه هم د سولې سوکالۍ. د قومي مخالفتونو تخم ، چې د اشغال په وخت کې شندل شوی ؤ، اوس یې حاصل تیار ؤ، افغانستان عملاً د پاکستان، امریکا او روسیې ګډه مستعمره وه.

د آزادۍ مقدس بهیر مشری، چې د روښانفکره ازادي غوښتونکو په ځای، مذهبي تنظیمونو ته وسپارل شې، همداسې کیږي لکه رنځور، چې د ډاکتر په ځای انجینیر ته په لاس ورکړې، چې هرومرو یې نفس ترې اوځي. . . د افغانستان د خپلواکۍ ساه هم په ختو شوه.

**۵ -** د ۲۰۰۱م کال د سپتمبر د ۱۱نیټې د نمیشنامې سره سم ، د امریکا نړیوال ځواک په خوار  افغانستان یرغل وکړ او افغانستان یې اشغال کړ. د امریکا متحده ایالتونو په نامه نوی استعماري ځواک، چې د انګریزانو او یهودو د ازدواج څخه زیږیدلی دی، د خپل غرور په اوج کې، وغوښتل په ملا مات افغان ملت سره زورآزمایي وکړي او د امریکا د سرو پوستانو په سرنوشت یې دچار کړي، دا پخواني تاریخي کیسې ورته افساني ښکاریدې. دا ځل هم د نورو پلاوو په څیر ددې خاورې نیول آسانه، اما ساتل یې بیا هم د تیر په څیر ناممکنه ؤ. سره ددې، چې د امریکایانو او شمالي ټلوالې د ګډو عملیاتو په مقابل د طالبانو عملي زور ټولې دنیا په خپلو سترګو ولید، چې څومره کمزوری ؤ. اما څه شی ؤ، چې د اتلسو کلونو د مقابلې په اوږدو کې یې طالبانو ته دومره قوت وروباخښه، چې امریکایي ګیګانت یې د هغوی سره د سولې ترون ته په ګونډو کړ !.. که دا هماغه پخوانی افغاني روح نه وي، چې د طالبانو عیارمقاومت ته ورننوتلی، نو څه دی؟

سره ددې، چې امریکا او د سرمایې ټولو ځواکمنانو ورسره یوځای د مقامت ټکولو له پاره مدرن ترینې وسلې او پوخې تخنیک استعمال کړو، د رواني جګړو په تاریخ کې د لومړی ځل له پاره، د څلوېښتو- پنځوسو ملکونو د پوځونو فشار لاندې یو ملت ترځپلو لاندې ونیو او دا ملت  مقاومت وکړاو مقاومت  هم ورځ تر ورځې صعودې سیر تعقیب کړ.

هغه وطنوال، چې د خارجي تبلیغاتو تر آغیزلاندې د افغان ویاړلي ملت په پته سپکې سپورې وایي، ګمراهان نه دي نوڅه دي؟ راځئ  ټول په ګډه، د افغان روح عظمت ته، لکه امریکایان په ګونډو شو او د تعظیم سر ورته ټیټ کړو، افغان او افغانیت مو د ژوندانه: د لیکنې، د شاعرۍ، د ډاکترۍ، د انجیرۍ، د بزګرۍ، . . .  همیشنۍ ترانه وګرځوو. هر څوک، چې هر څه کوي، خوښه یې، زه خو همدا کوم.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې ترون سره سم، ټول افغانان د جګړې له ډګر څخه سرلوړي، د سیاست میدان ته واوښتل لکه پهلوان، چې تیشه په لاس ترکانۍ ته کښیني. خدازده، چې دا ځل به خپل لاس په تیشه ووهي او که لرګی به مات کړي! ترکاني خو یې نه  زده.

یوه خوا، طالبان دي، چې یواځې خپله مني. ښایي راتلونکي به طالب د خپل شلیدلي ټټر سره، د هیواد لا د احتمالي خپلواکۍ څلې په سر حک کړي، که د مجاهدینو په څیر د وطن خپلواکۍ او سوله د خپلو تنظیمي ارمانونو قرباني نه کړي.

د بلې خوا، د مالي چارو يو اکاډميک شخص لکه اشرف غني دی، چې د غوړه مارانو يو قشر هم احاطه کړی، د سياست په ډګر کې عيناً دومره مسلکي مهارت او صلاحيت لري لکه د مدرسې يو جنګيدلی طالب. سياست د هغه ترکاڼي په څير ځانګړې فنکاري غواړي، هر پهلوان او آن هر عالم يې نه شي کولی. سياست مسلکي حکمت او مهارت غواړي. سياست کول آسانه دی، بريالی سياست پرمخ بيول ګران دی. جګړه هم د سياست يو متشکل جزُ دی، د سياست قهرآميزه برخه ده. د جګړې ګټل په کل کې داسې نه وي، لکه افغانان يې چې ګټي. بل ډول وي، داسې: د لومړۍ نړيوالې جګړې په پای کې انګلستان او متفقين يې د جګړې له کبله ۱۲,۵ ميليارده ډالر ، د ۵٪ سود سره د امريکا پوروړي وو. انګلستان، فرانسې او نورو د آلمان څخه ۳۳ ميليارده ډالر د جګړې تاوان غوښت، په پای کې ټولو د ۱۳۲ ميلياردو طلايي مارکو غوښتنه تصويب کړه، آلمان ته يې شپږ ورځې وخت ورکړ، چې دا مبلغ د جګړې تاوان په توګه رسماً ومني، که نه د هيواد ټاکلې برخه خاوره به يې ورڅخه ونيسي.

دې ته د جګړې ګټل وايي، نه لکه افغانستان يې چې ګټي. هره پلا يې تاوان زغملی. شوروي په افغانستان کې جګړه بايلوده، ددې پرځای ، چې افغانستان ته د جګړې تاوان ورکړي، د افغانستان له کبله يې له امريکا څخه د افغانستان په نيولو کې د مرستې او خپلې استخباراتي شبکې استخدامولو سره ۳,۴ ميلیارده ډالر ترلاسه کړل.

دا څه ډول ګټل دي!..

اوس هم هيواد په همداسې ، آن بدتر حالت کې دی. طالبان به د جګړې ګټلو باټې وهي، اشرف غني او عبدالله به د څوکۍ په سر سرونه ماتوي- هغه څوکۍ ، چې په اوسني حالت کې په يوه نيمکه هم نه ارزي.

دا پر خوار افغانستان باندې خرۍ خرۍ پروت، څو سرۍ ښامار او دا د غيرفنکاره افغاني سياسي لوبغاړو مقابله به، هيواد کوم ګړنګ ته ګوزار کړي او که ښامار به . . . تاريخ به يې وګوري او قضاوت به وکړي.

پايان

د خپلواکۍ د جګړو ورته پايلې

Sapi_mys_de_khpolwakai_djaglo.pdf